بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

قوهٔ قضائیه


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۸ غبرګولی ۱۴۰۳ هـ ش | ۱۹ ذوالقعدة الحرام ۱۴۴۵ هـ ق | ۲۸ می ۲۰۲۴ م | مسلسله شمېره (۶۶)

## د سترې محکمې د قضائي زده کړو رياست ته نوی رئيس شيخ قيام الدين قانت معرفي شو

د شنبې ورځ د ۹/ ۱۱/ ۱۴۴۵هـ ق نېټه د سترې محکمې د قضائي زده کړو رياست ته نوی رئيس محترم شيخ قيام الدين قانت د يوې غونډې په ترڅ کې د ياد رياست کارکوونکو ته معرفي او ور وپېژندل شو.

ياده د معرفت غونډه چې د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس محترم مولوي عبدالرحيم راشد، د سترې محکمې مسؤولينو او د ياد رياست کارکوونکو په کې ګډون درلود؛ د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه.

وروسته د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ عبدالمالک حقاني صاحب خبرې وکړې ووېل، انبياء کرام د خپل امت د تعليم او تعلم لپاره را تلل، دا رياست د قضائي زده کړو هم د ټولو قضاتو او قضائي غړيو د روزنې او علمي تربيې لپاره جوړ شوی، چې دلته به عملي او نظري زده کړې ورکول کېږي.

محترم حقاني صاحب د پخواني رئيس د کارونو ستاينه وکړه او هيله يې څرګنده کړه چې نوی رئيس به د قضاتو د روزنې لپاره نوې لارې چارې په کار واچوي او ښه پروګرامونه به پلي کړي.

د غونډې په دوام د قضائي زده کړو رياست پخواني رئيس محترم مولوي عبدالرحمن غزنوي ووېل، په دې رياست کې د قضاء نظام قضاتو ته ښودل کېږي، الحمدلله تر اوسه دلته ډېر فکرونه او سلګونه قضات روزل شوي، ستاسو ټولو له زحمتونو او کارونو مننه کوم او الله جل جلاله دې قبول کړي.

محترم غزنوي زياته کړه، اسلامي امارت په ډېرو قربانيو او زحمتونو راغلی، نو احتياط به ورسره کوو او هر قدم به په احتياط اخلو.

همدا راز د قضائي زده کړو رياست نوي رئيس محترم شيخ قيام الدين قانت ژمنه وکړه، چې د اسلامي شريعت او اسلامي امارت د قوانينو په چوکاټ کې به خپل کارونه پر مخ بيايم او د محاکمو د قضائي غړيو په روزنه کې به هلې ځلې کوم.

ياده غونډه د قضائي زده کړو رياست د استاد شيخ صاحب جان په دعا پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده چې د قضائي زده کړو رياست نوی رئيس مخکې د کابل ولايت د مرافعه محکمې د تجارتي دېوان د رئيس په حيث دنده ترسره کوله.

## د جنوب غرب زون د تميز عالي رياست مفتشينو د نيمروز ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د جنوب غرب زون د تميز عالي رياست او د سترې محکمې د قضائي معاونيت د محترم مقام په هدايت د قضائي پلټنې يو څلورکسيز ټاکل شوي پلاوي د جنوب غرب زون د قضائي تفتيش معاون الحاج مولوي عبدالناصر (حکمت) په مشرۍ، چې الحاج مولوي عبدالعلي (ابو سليم)، الحاج مفتي محمد (عمري) او مفتي عطا الرحمن (عاصم) پکې د مسلکي غړيو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ذوالقعدې مياشتې په ۲ مه نېټه د نيمروز ولايت د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړنو په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

د قضائي تفتيش ياد پلاوي د سفر او ليدنې په پيل کې د نيمروز ولايت د مرافعه او ښاري محاکمو له محترمو رئيسانو سره وکتل، په دې ليدنه کې يې د محاکمو د ظرفيت لوړولو او معياري کولو په اړه خبرې وکړې.

د ليدنې په دوام ياد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د ياد ولايت د مرافعه او ښاري محکمې اړوند دېوانونو، د ولسواليو د ابتدائيه محاکمو او هرې ولسوالۍ له زندان، د وثايقو آمريت او حقوقو آمريت څخه په جلا جلا ډول ليدنه وکړه.

وروسته يې د بنديانو ستونزو د څېړلو په موخه د ياد ولايت له مرکزي زندان (محبس) څخه ليدنه وکړه، د ياد محبس اړوند د ټولو بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت، شکايتونه، ستونزې يې له ځان سره وليکلې او بيا يې د اړونده محاکمو سره شريکې کړې.

ياد پلاوي د څارنې بهير په ترڅ کې د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخېستل او د چارو د سمون په برخه کې ورته لازمې لارښوونې وکړې. ياد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستيکي نيمګړتياوې له ځان سره وليکلې او د ليدنې په وروستيو کې يې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نيمګړتياوو د اکمال په اړه د نيمروز ولايت د مرافعه محکمې د رياست له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ځينې ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شريکې کړې.

ياد پلاوي د څارنې او ليدنې په دوام د ياد ولايت او د ولسواليو له مسؤولينو، علماء کرامو او قومي مشرانو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او د ځينو اړونده ستونزو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

ياد پلاوي د نيمروز ولايت د محاکمو په وړاندې د شته ستونزو دقيقه او هر اړخيزه څېړنه وکړه.

د قضائي تفتيش د څارنې او پلټنې پلاوي ياد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۵ هـ ق کال د ذوالقعدې مياشتې په(۱۴) مه نېټه پای ته ورسېده.

## گزارش اجراآت عمدهٔ رياست پاليسی و پلان طی ماه شوال سال ۱٤٤٥ هـ ق

- جمع آوری و توحيد راپور حاضری منسوبين قضائی و اداری از محاکم ۳٤ ولايت کشور از بابت ماه حمل سال ۱٤۰۳ و ارسال آن به رياست‌های عمومی منابع بشری و رياست عمومی تفتيش قضائی غرض اجراآت بعدی.
- جمع آوری و توحيد گزارش دسترسی زنان به حق ميراث و ماليکت از بابت ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ ش و ارسال آن غرض اجراآت بعدی به مراجع مربوطه.
- ترتيب پلان کاری برای سال ۱٤۰۳ هـ ق اين رياست.
- جمع آوری و توحيد گزارش کاری رياست‌های مرکزی ستره محکمه از بابت ربع چهارم سال ۱٤۰۲هـ ش و ارسال آن به دفتر مقام عالی مشرتابه و رياست محترم عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان.
- توحيد نمودن گزارش کاری سال ۱٤۰۲هـ ش (بخش قضائی و اداری) رياست های مرکزی ستره محکمه و ۳٤ محاکم ولايات کشور و ارسال آن به آمريت محترم احصائيه قضائی.
- نظارت و ارزيابی از فعاليت های انجام يافته تمام کارمندان تحت اثر اين رياست از بابت مبارک رمضان سال ۱٤٤٥ هـ ق و نتايج آن به رئيس پاليسی و پلان شريک گرديد.
- ترتيب گزارش از تطبيق و اجراآت انجام يافته (۱۱) قطعه احکام عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) و ارسال آن به رياست محترم عمومی امور اداری، رياست های عمومی دفتر مقام و دفتر معاونيت اداری و رياست تحريرات مقام غرض آگاهی از اجراآت احکام.
- ترتيب و تنظيم گزارش تفصيلی قوه قضائيه از بابت ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ ق و ارسال آن به دفتر مقام عالی مشرتابه، رياست عمومی ادارهٔ امور، رياست الوزراء، معاونيت قضائی زون مرکز، معاونيت قضائی زون جنوب غرب کندهار، معاونيت اداری و رياست محترم ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات ستره محکمه.
- ترتيب گزارش اجراآت قضائی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ ش (۳٤) محاکم ولايات در فارمت سال تمام به تقاضای رياست محترم عمومی منابع بشری.

**په نبوي دوره کې دځينو قاضيانو يادونه:**
**څلورمه برخه**

او وکيع په خپل سند سره د ابو رافع څخه نقلوي، چې کله رسول الله (صلى الله عليه وسلم) حضرت علي يمن ته د قضاء دندې لپاره ولېږی، نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د هغه سينه مسحه کړه او ووېل: « اللهم اهدِ قلبه، وثبِّت لسانه، وأعطِه فهم ما يُخاصم اليه فيه» (أخبار القضاء لوكيع الضبي البغدادي، ۸۶/۱، د مړينې نېټه- ۲۰۶هـ)

يعنې اې څښتنه! دده زړه په حقه لار روان کړې، ژبه يې محکمه کړې او د هغه شخړو په اړه چې دی يې په اړه پرېکړه کوي پوره فهم او آګاهي ورکړې.

قدرمنو لوستونکو! د حضرت علي رضي الله عنه ځينې پرېکړې به دده په زمانه کې د قضاء په بحث کې راشي.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۲ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## بالای دو متهم در ولایت بدخشان حکم جزای تعزیری تطبیق شد

به تاریخ ۴/ ۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق به اساس فیصله محکمه ابتدائیه شهری فیض آباد ولایت بدخشان بالای دو تن که متهم به زنا بودند؛ در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق گردید.

از طرف محکمه ابتدائیه شهری فیض آباد برای متهمین یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری حکم گردیده بود، که بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق گردید.

گردهمایی که به همین منظور راه اندازی شده بود، قضات، محررین، کارمندان اداری و خدماتی محکمهٔ ابتدائیه شهری و یک تعداد از مراجعین حضور داشتند.

## بالای هشت متهم در ولایت نیمروز حکم جزای تعزیری تطبیق شد

سه شنبه مؤرخ (۱۲/ ۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق) به اساس فیصلهٔ دیوان جزا محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت نیمروز بالای هشت تن که متهم به سرقت بودند؛ در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

از طرف محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری هشت متهم ذکر شده علاوه بر حبس تنفیذی از ۱۵ تا ۳۰ دُره جزای تعزیری محکوم گردیده بودند، که این حکم بعد از تائید معاونیت قضائی زون جنوب غرب مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق گردید.

در گردهمایی که به همین منظور راه اندازی شده بود، قضات، محررین مسلکی، کارمندان اداری و خدماتی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و مرافعهٔ ولایت نیمروز و یک تعداد از مراجعین حضور داشتند.

## پکتیکا ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

په ۱۱/ ۱۱/ ۱۴۴۵هـ ق نېټه د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پریکړې په اساس دوه تنه چې پر غلا متهم وو؛ تعزیري سزا ورکړل شوه.

د برمل ولسوالۍ ابتدائیه محکمې یاد متهمین پر یو کال تنفیذي بند او (۳۰) دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو، چې یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شو.

## بالای یک متهم در ولایت بامیان حکم جزای تعزیري تطبیق شد

سه شنبه مؤرخ (۱۲/ ۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق) به اساس فیصله محکمه ابتدائیه ولسوالی شبر ولایت بامیان، بالای یک تن که متهم به نوشیدن شراب و داشتن یک بوشکه شراب در خانه خود بود؛ حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

به اساس فیصله محکمه ذکرشده این فرد متهم محکوم به دو سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری بود، که در حضورداشت مقام ولسوالی شبر، قوماندان امنیه شبر، مدیریت استخبارات و امر آمریت محتسبین امر بالمعروف بالای اش حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

## رئیس جدید محکمه مرافعه ولایت هرات معرفی و آغاز به کار نمود

روز چهارشنبه مؤرخ ۶ /۱۱ /۱۴۴۵هـ ق جلسه معرفی محترم شیخ مولوی محمود (ابوالفیض) رئیس جدید محکمه مرافعه ولایت هرات، با اشتراک محترم مولوی عبدالله قادری رئیس اسبق محکمه مرافعه ولایت، محترم شیخ الله نظر رئیس محکمه نظامی زون هرات، محترم مولوی سراج الدین ابوسعید رئیس عمومی تفتیش زون جنوب غرب، مفتی سید احمد معتصم معاون و رئیس دیوان جزا محکمه مرافعه، مولوی خدای رحیم خدام رئیس محکمه ابتدائیه شهری، رؤسای دواوین مرافعه و شهری و تمام پرسونل قضائی و اداری محکمه مرافعه ولایت هرات در سالون کنفرانس های محکمه مرافعه هرات دایر گردید.

در ابتداء این جلسه محترم مولوی عبدالله قادری رئیس اسبق تشریف آوری محترم شیخ مولوی محمود ابوالفیض را به حیث رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت هرات خیر مقدم گفت و بیان نمود، که تغیر و تبدیلی یک امر معمول میباشد و نتیجه مثبت هم در بر خواهد داشت، عزل از وظیفه و تبدیل شدن را نباید ما از دید منفی بنگریم، محترم قادری اضافه نمود، تمام شما باید در همه امور با هم همکار و متحد باشید.

در ادامه این جلسه رئیس محکمه نظامی زون هرات سخنرانی نمود گفت، محترم قادری صاحب زحمات و خدمات زیادی پیش از فتح و بعد از فتح انجام داده است، خداوند متعال زحمات و خدمات قادری صاحب را مقبول درگاه خویش بگرداند، خداوند متعال به رئیس جدید محکمه مرافعه ولایت هرات توفیق خدمت عطاء فرماید، موفق بودن در همه امور زمانی بوجود میاید که بین مسلمانان وحدت و اتفاق باشد، الله متعال شیخ محمود صاحب را نیز توفیق خدمت عطا فرماید و برای مولوی عبدالله قادری توفیق خدمت در وظیفه جدید شان نمود.

در اخیر این جلسه رئیس جدید عمومی محاکم ولایت هرات بیان نمود، این کشور در راه پیروزی امارت اسلامی افغانستان شهدای زیاد داده است و الله رب العزت جناب عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی را محفوظ و منصور داشته باشد، که زمینه خدمت کردن را به ما و شما مساعد ساخته است، هدف از آمدن و توظیف و مقرر من اطاعت از جناب عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی میباشد.

در ادامه بیان نمود، باید بین محاکم و ادارات محلی امارتی هماهنگی و همکاری لازم داشته باشیم.

جلسه با دعاء خیر رئیس محکمه نظامی زون هرات خاتمه یافت.

## د میدان وردګ د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت د اتو (۸) ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو لیدنه وکړه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام میاشتې په ۱۰، ۱۱، ۱۲ او ۱۳مه نېټه د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مفتي عبدالله (فرقاني) د تحریراتو د امر عبدالحنان همت په ملتیا د یاد ولایت د سیدآباد، جغتو، نرخ، جلریز، بهسود حصه اول، بهسود مرکز، دایمیرداد او چک ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د مرافعه محکمې رئیس د یادو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو جزائي، حقوقي او اداري چارې له نیږدې وکتلې او قاضي صاحبانو ته یې د چارو د سمون، چټکتیا او ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

## د ننګرهار د ښاري ابتدائیه محکمې د سرپرست رئیس د معرفت غونډه وشوه

په ۲۸ / ۱۰ / ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د چارو د بهبود او چټکتیا په موخه د سترې محکمې د عالي مقام له لوري د ننګرهار ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې لپاره د سرپرست رئیس محترم مولوي محمود سعید د معرفت او پېژندنې غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د ننګرهار د ښاري ابتدائیه محکمې د دېوانونو قضائي او اداري کارکوونکو ګډون درلود؛ د تحریراتو د رئیس مولوي وسیع الله سعادت لخوا د قران عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

ورپسې د ننګرهار د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالشکور (رشاد اخندزاده) د غونډې ګډونوالو ته عالمانه وینا وکړه، د پخواني رئیس مولوي امان الله حقاني کړنې یې وستایلې او د ښاري ابتدائیه محکمې نوی سرپرست رئیس یې د یادې محکمې قضائي او اداري کارکوونکو ته رسماً ور معرفي کړ.

د غونډې په دوام د ښاري محکمې نوي سرپرست رئیس د محکمې او د قضاء پر اهمیت هر اړخیزې خبرې وکړې، ټول مسؤولین یې خپلو دندو ته متوجې کړل، د ښاري ابتدائیه محکمې د دېوانونو رئیسانو ته یې د چټکو اجراآتو په موخه لازمې سپارښتنې وکړې، تر څو د هېواداوالو ستونزو ته پر خپل وخت رسېدنه وشي.

د غونډې په وروستیو کې د دېوانونو رئیسانو نوي سرپرست رئیس ته ښه راغلاست ووایه او ډاډ یې څرګند کړ، چې خپل کارونه به په ښه او احسنه طریقه سرته رسوي.

غونډه د ننګرهار د مرافعه محکمې د عامه امنیت دېوان مفتي شیخ ولي محمد په دعاء پای ته ورسېده.

## نشست معرفی محترم مولوی محمد یوسف ابوالوفأ رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار تدویر یافت

روز دوشنبه (مؤرخ ۴/ ۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق) محترم الحاج مولوی محمد یوسف (ابوالوفأ) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار معرفی و رسماً به کارش آغاز نمود.

در جلسهٔ معرفی موصوف، محترم مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس قبلی محکمهٔ مرافعه، رئیس محکمهٔ شهری، رؤسای دواوین مرافعه و ابتدائیه، تمام قضات محترم، منسوبین اداری و امنیتی محاکم تخار، معاون امور امنیتی و اداری قوماندانی امنیه، رئیس شورای علماء و دیگر اراکین آن ولایت حضور داشتند.

جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس محترم مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس قبلی محکمهٔ مرافعه و شیخ عبدالحمید (متوکل) رئیس محکمهٔ شهری تخار هر کدام شان باالنوبه ضمن خوش آمدید و تبریکی به رئیس جدید مرافعه پیرامون موضوع صحبت نمود گفت که نظر به حدیث مبارک، علماء ورثه انبیاء کرام هستند، ملت رنج دیدهٔ کشور از ما و شما خواهان تأمین عدالت است، غرض بهبود امور تغیر و تبدیل در همه نظام ها خصوصاً در نظام امارت اسلامی یک اصل پذیرفته شده است، لهذا هر نوع مسؤولیت که سپرده میشود، باید بوجه احسن و صداقت کامل انجام دهیم.

در ادامهٔ جلسه رئیس جدید التقرر محکمهٔ مرافعه ولایت تخار راجع به موضوع در روشنائی آیات و احادیث مبارکه صحبت های عالمانه و ارزشمند به حاضرین مجلس بیان نمود افزود، مسؤولیت که برای من و شما از جانب اولیای امور و مقامات سپرده شده است، در قبال مسؤولیت های خود نزد الله سبحانه و تعالی مسؤول میباشیم، که آیا وظایف خویش را طبق فرمودات الله متعال انجام نموده ایم یاخیر؟ در کل وظایف خصوصاً وظیفه مقدس قضاء کدام امتیاز نیست؛ بلکه یک مسؤولیت بسیار سنگین و عظیم است، باید متوجه مسؤولیت های خود بوده باشیم.

رئیس جدید محکمهٔ مرافعه تعهد سپرد که وظایف و مکلفیت های خود را طبق اصول شرع و فرامین مقامات مرکزی با صداقت و ایمانداری کامل انجام داده و عدالت را به وجه احسن تأمین خواهد کرد.

همچنان رئیس جدید التقرر محکمهٔ مرافعه جهت بهبود امور قضائی و اداری به همآهنگی میان هم و ادارات ذیربط، اطاعت پذیری از اوامر شرعی و اصولی، وحدت و اخوت، پابندی به حاضری و رویهٔ نیک با مراجعین تأکید نمود.

جلسه با دعاء خیر و فلاح کشور توسط شیخ محمود رئیس شورای علماء ولایت تخار خاتمه یافت.

## د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست د تشکیلاتي جوړښت د تنظیم او ارزونې غونډه وشوه

په ۱۱/۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست د ناستو په تالار کې د یاد ریاست د محترم رئیس الحاج مولوي محمد عوض (سعید) په مشرۍ د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو د عمومي قوماندانیو، مدیریتونو، آمریتونو او اړوند منسوبینو د ۱۴۰۳هـ ش کال د تشکیلاتي جوړښت، اړتیاوو او لاسته راوړنو د ارزونې په موخه غونډه وشوه.

په دې غونډه کې د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي رئیس الحاج مولوي محمد عوض (سعید)، د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو د عمومي قوماندانۍ سرپرست حافظ سید حکمت الله آغا ذهین، د دفتر عمومي مدیر مولوي خان محمد مستغفر، د تأميناتو عمومي مدیر قاري فرید احمد همت، د پېژند عمومي مدیر مولوي نور محمد قتیبه، د محاسبې عمومي مدیر مولوي محمد اسماعیل ناظم او نورو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې محترم الحاج مولوي محمد عوض سعید د مسؤولیتونو په سپارلو کې په عدل ټینګار وکړ وویل، موږ ته الله تعالی په عدل امر کړی او مسؤولیتونه اهل کسانو ته سپارل عدل دی.

نوموړي زیاته کړه، مسؤولیت امتیاز مه ګڼئ؟؛ بلکې مسؤولیت یو درونډ الهي امتحان دی.

د غونډې په دوام د یاد عمومي ریاست اړتیا ته په کتو په تشکیلاتي جوړښت کې پر اړینو تغیراتو تر مشورو او بحث وروسته موافقه وشوه.

دا غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۹۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې له ( ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر (۱/ ۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۹۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۲۹) حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده. له دې جملې څخه (۱۸) دوسیې فیصله شوې او د (۱۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۶۲) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده. له دې جملې څخه (۴۵) دوسیې فیصله شوې او د (۱۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي.

## محاکم غزنی طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۴۲۳) دوسیه، به تعداد (۴۲۶) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۰۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۵۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۸) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۲۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۴۲۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې د (۵۵۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۴۹۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۲۵/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه ۷/ ۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې د (۵۵۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۹۵) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۳۳) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۸۹) دوسیې فیصله شوې، (۴۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۱۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۴۸) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۹۳) دوسیې فیصله شوې، (۲۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۸۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۹۵) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۲۹) دوسیه، به تعداد (۳۷۵) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در محاکم ولایت تخار در جریان یک ماه به تعداد (۴۶۴) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله (۴۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۵۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در محاکم ولایت تخار در جریان یک ماه به تعداد (۱۶۵) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۸۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۳۷۵) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د کابل ابتدائیه محکمې اړوند څلور زونونو په دوو اونیو کې (۷۴۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ښار د ابتدائیه محکمې اړوند څلور زونونو په دوو اونیو کې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې د ۱۶/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق نېټه څخه تر ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې (۷۴۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۸۶) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۵۵) دوسیې فیصله شوې، د (۷۰) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۱۹۳) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۴۶) دوسیې فیصله شوې، د (۱۵۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائیه محاکمو څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۱۹۶) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳۸) دوسیې فیصله شوې، د (۱۳۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبتولو شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۷۷۵) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبتولو شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې د ۱۶/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې (۱۷۷۵) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبتولو لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبتولو لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۱۶۲) نکاح خطونه، (۱۲) زوجیت خطونه او (۳۰) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبتولو دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبتولو دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۰۲) نکاح خطونه، (۱۳) زوجیت خط او (۶۴) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبتولو درېیمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبتولو درېیمې حوزې په دوو اونیو کې (۴۴۸) نکاح خطونه، (۵۰) زوجیت خطونه او (۸۵) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبتولو څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبتولو څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۵۷) نکاح خطونه او (۷۰) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبتولو پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبتولو پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۵۸) نکاح خطونه او (۹۴) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبتولو شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبتولو شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۶۴) نکاح خطونه، (۸) زوجیت خطونه او (۵۸) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## د کابل د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په دوو اونیو کې (۳۱۰) دوسیې حل او فصل کړې دي

د کابل ولایت د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د ۱۵ /۱۰ /۱۴۴۵ هـ ق نېټې څخه تر ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې (۳۱۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې ته په دوو اونیو کې (۱۰۳) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳۱۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ غور از محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های چارصده و مرغاب دیدار نمود

به تاریخ (۱۵/ ۱۶ شوال المکرم ۱۴۴۵هـ ق) محترم شیخ عبدالکریم (صمیم) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت غور بسلسله دیدارهایش از محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های چارصده و مرغاب دیدار نمود.

در این دیدار نخست با منسوبین قضائی و اداری محاکم مذکور و مسؤلین ادارات ملکی و نظامی جلسهٔ تعارفی نمود، سپس کتب و دفاتر کاری محاکم مذکور را مورد بررسی قرار داد و به نواقصات آن رهنمایی های لازم فرمود.

در ادامه این دیدار رئیس محکمهٔ مرافعه در قسمت پابندی به حاضری، سرعت در امورات یومیه، حفظ استقلال قضاء، رعایت متحد المآلها و فرامین مقامات عالیه توصیه های لازم فرمودند.

همچنان رئیس محکمهٔ مرافعه نشست جداگانه را با مسؤول امر بالمعروف و نهی عن المنکر و تعداد از علماء ولسوالی های مذکور انجام داد، راجع به همکاری و همدیلی علماء، مردم با مسؤولین نظام مخصوصاً همکاری با محاکم و رعایت اصل اطاعت پذیری از اولوالامر صحبت های مفصل و همه جانبه نمود، که از طرف اشتراک کننده‌گان مورد تایید قرار گرفت و در همه موارد اطمینان کامل داد.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## نشست معرفی محترم مولوی محمد (صابر) حنفی رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان تدویر یافت

روز سه شنبه (مؤرخ ۵/ ۱۱/ ۱۴۴۵ هـ ق) محترم الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان رسماً طی یک نشست به مسؤولین و منسوبین محاکم آن ولایت معرفی و به کار خویش آغاز نمود.

در جلسهٔ معرفی موصوف، محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفاء) رئیس قبلی محکمهٔ مرافعه، رئیس محکمهٔ شهری، رؤسای دواوین مرافعه و ابتدائیه، تمام قاضی صاحبان محترم، منسوبین اداری و امنیتی محاکم بغلان حضور داشتند.

جلسه با تلاوت چند آیت از قرآنکریم آغاز گردید؛ سپس محترم مولوی عبدالحی (اشرفی) رئیس دیوان جزا مرافعه ضم خوش آمدید به مهمانان گرامی و تبریکی به رئیس جدید پیرامون نظام سیاسی اسلام صبحت نمود گفت، تا زمانیکه علماء کرام نظام را بدست نداشته باشد، تحفظ حقوق الله در اجتماع غیر ممکن میباشد و نباید علماء کرام گوشهٔ مسجد را اختیار کنند.

در ادامهٔ جلسه مولوی عبدالحمید رئیس محکمهٔ شهری ولایت تخار در رابطه به تغییر و تبدیل اظهار نظر نمود افزود، که تبدیلی در نظام امارت اسلامی افغانستان یک اصل پنداشته می شود.

بعداً رئیس قبلی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان از تمام منسوبین محاکم ولایت بغلان تقاضا نمود قسمیکه همرای من رفتار نیک داشتید، با رئیس صاحب جدید تان همچنان از رفتار و کردار نیک کار بگیرید، (فورم پـ ۲ ) رئیس جدید التقرر محکمهٔ مرافعه را به خوانش گرفت و برایشان از بارگاه الله متعال آرزوی موفقیت نمود.

در پایان جلسه محترم الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان طی سخنان عالمانهٔ شان در رابطه به اطاعت از اوامر شرعی، بهبود امور قضائی، اخوت برادری و رفتار نیک با مراجعین تأکید ورزید.

جلسه توسط شیخ عبدالغنی (حقانی) مفتی محکمهٔ اختصاصی ولایت بغلان با دعاء خیرخاتمه یافت.

## د سترې محکمې د نظامي معاون په مشرۍ د نظامي محاکمو د مسؤولینو ترمنځ ناسته وشوه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د د ذوالقعدة الحرام میاشتې په ۱۲ مه نېټه د سترې محکمې نظامي معاون محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په حکم او د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په هدایت د هیواد د ټولو نظامي محاکمو له رئیسانو او قاضیانو سره وکتل.

په دغه پنځه ورځنۍ ناسته کې چې د ذوالقعدې میاشتې په ۱۲ مه پیل او د همدې میاشتې تر ۱۶ مې نېټې یې دوام درلود؛ د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب هم دوې ورځې حضور درلود او د ناستې ګډونوالو ته یې د شرعي اصولو مطابق د خپلو دندو ترسره کېدو هدایت وکړ.

په دې ناسته کې د نظامي محاکمو د چارو د لا بهبود، د نظامي محاکمو ترمنځ د همغږۍ د لا ډېرېدو، په ټاکلي وخت د چارو ترسره کېدو او د نظامي محاکمو د ضروریاتو په اړه تفصیلي خبرې وشوې.

د سترې محکمې نظامي معاون محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب په یاده ناسته کې چې د هیواد د اتو زونونو د نظامي محاکمو رئیسانو او قاضیانو په کې ګډون درلود، د پورته ذکر شوو مواردو په تړاو د ټولو حاضرینو نظرونه او وړاندیزونه واورېدل.

په دې سربېره محترم شیخ خیرخواه صاحب د ناستې حاضرینو ته د نظامي محاکمو د ټولو ضروریاتو د پوره کولو ډاډ ورکړ وویل، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې محترم مشرتابه هڅه کوي د هیواد د ټولو محاکمو ضروریات مشخص او پوره کړي، ترڅو محاکم په پوره اطمینان د مراجعینو دوسیو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

## نشست معرفی رئیس جدید التقرر محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت نیمروز تدویر یافت

روز چهارشنبه (مؤرخ ۲۲ /۱۰ /۱۴۴۵ هـ ق) نشست معرفی محترم مفتی امین الله (سعید) رئیس جدید التقرر محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، با حضورداشت محترم شیخ عبدالخالق (محمدی) رئیس محکمهٔ مرافعه، پرسونل اداری و قضائی ریاست محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری آن ولایت در مقر ریاست محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری دایر گردید.

این نشست با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز ضمن خوش آمدید به رئیس جدید التقرر محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، قضاء را مسؤولیت بسیار بزرگ و بخش مهم از عبادت دانست گفت که تغییر و تبدیل یکی از اصول امارت اسلامی میباشد.


محترم شیخ (محمدی) در ادامه صحبت های شان در رابطه به عدل که یکی از بزرگترین عبادات است صحبت نمود گفت که قضات در خصوص تأمین عدل و انصاف باید از هیچ تلاشی دریغ نورزند؛ زیرا بیش از ۲۰ سال مبارزهٔ امارت اسلامی، قربانی ها و شهادت شهدا همه برای برقراری نظم و استقرار عدالت در روی زمین بود، بناءً این وجیبهٔ بزرگ را بدور از هر نوع تعصبات قومی، سمتی و زبانی به انجام برسانیم.


رئیس محکمهٔ مرافعه همچنان پیرامون اطاعت سخنرانی کرد و گفت که اطاعت از امر آمر واجب و الزامی بوده و در امورات مباح هم روایات متعدد از علماء جید اسلام است، که اطاعت از امر آمر را از جمله امورات ضروری پنداشته اند؛ مگر اینکه اطاعت از بزرگان و آمرین در معصیت باشد و برای رئیس جدید و رئیس قبلی توفیقات مزید خدمت از بارگاه الله متعال مطالبه نمود.

در ادامهٔ این نشست رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ابراز داشت که در تغییر و تبدیل مصلحت نظام و اجتماع نهفته است و بدین معنی نیست که یکی بر دیگری برتری دارد.

موصوف افزود که در امورات اداری و قضائی همکاری همه همکاران قضائی و اداری را خواهانیم تا آنچه راکه اصول و شریعت میگوید، بمنظور خدمت به خلق الله به پیش ببریم.

جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.




میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc۱۴۴۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳